# کندهاري معماران


ليکنه او ترجمه:

**انجنير محمدحسن نعيمي**

باسمه تعالی

# کندهاري معماران


لیکنه او ترجمه: **انجنیر م. حسن نعیمي**

خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه** – کندهار

کمـپوز او ډیزاین: **روهـیال کمپیوټر اداره** - کندهار

چاپ کال: ۱۳۹۳ش

چاپ شــمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ٤٠ مخه

د خپرونو لړ: ۹۳

چاپځای: ملالۍ مطبعه


---


تلیفون: ٠٧٠٠٣٢٦٠١١

ایمیل: mrohyal@yahoo.com


---


**ټول چاپي حقوق په خپروونکي اړه لري!**

# فهرست


۱. اروابناد نعيمي او کندهاري معماران ............... ۵
۲. کندهاري معماران ............... ۸
۳. کندهار بنار ............... ۱۰
۴. د کندهاري معمارانو ځيني ځانګړني ............... ۱۱
۵. استاد نعيم جان ............... ۲۴
۶. د ده د کار بېلګي ............... ۲۵
۷. د استاد نعيم جان رسمي د ندې ............... ۲۹
۸. استاد لعل محمد ............... ۳۰
۹. استاد يارمحمد ............... ۳۱
۱۰. استاد اخترمحمد ............... ۳۲
۱۱. استاد شېرين ............... ۳۲
۱۲. استاد صالح محمد ............... ۳۳
۱۳. استاد خان محمد ............... ۳۳
۱۴. استاد محمدالدين ............... ۳۳
۱۵. لوی حاجي پيرمحمد ............... ۳۴
۱۶. کوچنی حاجي پيرمحمد ............... ۳۴
۱۷. نصرالله جان مهندس ............... ۳۵
۱۸. استاد صالح محمد ............... ۳۵

۱۹. صوفي نظرمحمد........................................ ۳۵
۲۰. استاد محمدانور........................................ ۳٦
۲۱. استاد سیدمحمد........................................ ۳٦
۲۲. استاد قادر........................................ ۳٦
۲۳. استاد عبدالصمد ........................................ ۳٦
۲۴. استاد حاجي قادر........................................ ۳۷
۲۵. استاد حاجي قاسم ........................................ ۳۷
۲٦. استاد سراج ........................................ ۳۷
۲۷. استاد امین الله ........................................ ۳۷
۲۸. استاد خیرمحمد ........................................ ۳۸
۲۹. استاد شاه محمد ........................................ ۳۸
۳۰. استاد نجف........................................ ۳۸
۳۱. استاد دین محمد........................................ ۳۹
۳۲. استاد دادو ........................................ ۳۹
۳۳. استاد حیدر ........................................ ۳۹
۳۴. وروستۍ خبري ........................................ ۳۹

# اروانښاد نعيمي او کندهاري معماران

د احمدشاهي کندهار د کوڅو په وېش کې يوه کوڅه د بنايانو په نوم موجوده ده. دا کوڅه د دوهمي ناحيې د ښکاپر بازار په لوېديځه راسته کې واقع ده او مخ پر لوېديځ غزېدلې ده. د دې کوڅې اکثره کورونه په کندهاري معمارانو (بنايانو) پوري اړه لري.

د دغو معمارانو مشر استاد چې د احمدشاه بابا معاصر او د احمدشاهي ښار په جوړولو کې ئې لاس لاره استاد محمدياسين نومېدی. د دغه استاد محمدياسين اولاده وروسته په کندهاري معمارانو مشهوره سوه، چې پر کندهار سربېره ئې په کابل، جلال آباد او د افغانستان په نورو ولايتونو کې ښکلي ودانۍ جوړي کړې او د دې هيواد په آبادولو او جوړولو کې خولې تويي کړې دي.

حاضره کوچنۍ رساله چې د کندهاري معمارانو په نوم ليکل سوې ده. هدف ئې د دغو معمارانو معرفي ده. د دې رسالې ټول معماران د کندهار د بنايانو په کوڅه پوري اړه لري او د دې کوڅې اصلي اوسېدونکي دي. د کندهار زياتره د پام وړ ودانۍ او تاريخي ځايونه د دوی د کار محصول او د دوی په لاسونو جوړ سوي دي. په دې لست کي د کندهار مشهور مسجدونه، جامع گاني، د ساتېري پارکونه، د احمدشاه بابا او مېرويس نيکه د زيارتونو ودانۍ او نور متبرکه اماکن ټول د دغو کندهاري معمارانو په لاس جوړ سوي دي.

دا رساله لومړی وار په ۱۳۵۵ش کال د کندهار مجلې په بېلابېلو گڼو کي خپره سوه. دوهم وار د ځينو اضافاتو او زياتونو سره د ښکلا مجلې د شپږم کال په

بېلابېلو ګڼو کي خپره سوې ده، چي موږ هم د ښکلا مجلې بڼه اوسني کتابي شکل ته اړولې ده.

## د رسالې مؤلف:

د دې رسالې ارواښاد مؤلف انجنير محمدحسن نعيمي نومېږي، چي په خپله هم يو مسلکي معمار او د کندهار ښار په ابادولو سترې سرې وو. د هغه د کارونو نمونې اوس هم د دغه ښار په بېلابېلو ځايونو کي تر سترګو کېږي، چي ښه نمونې ئې د کندهار د عيدګاه جادې عمارات دي چي په نوې بڼه د عبدالغني خان ګردېزي د نائب الحکومګۍ په دوو دورو کي جوړ سوي دي.

ارواښاد نعيمي د کندهار د مشهور معمارباشي استاد محمدنعيم چي په خليفه نعيم جان سره مشهور وو زوی دئ. نيکه ئې استاد عبدالرحيم او ورنيکه ئې استاد محمدصديق معمار نومېږي. محمدصديق د عبدالرحمن زوی او د عبدالرحمن پلار استاد محمدياسين نومېدی چي د احمدشاهي دربار معمار او د احمدشاهي ښار له لومړنيو معمارانو څخه ګڼل کېږي.

محمدحسن نعيمي په ۱۳۱۲ش کال د کندهار د بنايانو په کوڅه کي وزوکېدی. په ۱۳۲۰ش کال د کندهار د هغه مهال په شالمار ښوونځي کي شامل او تر شپږم ټولګۍ پوري زده کړي ئې په دغه ښوونځي کي تر سره کړې. وروسته د ميرويس نېکه عالي لېسې ته تبديل او په ۱۳۳۰ش کال د احمدشاه بابا له لېسې څخه فارغه سو. لوړي زده کړي ئې د پولي تخنيک د مهندسۍ په رشته کي تر سره کړې.

له ۱۳۳۳ش کال څخه ئې رسمي ماموريت پيل کړی دئ. لومړی ماموريت ئې د کندهار د فوايد عامې په مديريت کي د "معاون مهندس" په نامه پيل او وروسته ئې د کندهار او هلمند په بېلابېلو ساختماني پروژو کي ماموريتونه کړي دي.

اروابښاد نعیمي د خپل مسلک معمارۍ تر څنګ د ادب او مطالعې سره هم علاقه لرله او په دې برخو کې د ښه ذوق څښتن وو. د کندهار د مطبوعاتو په شمول ئې هماغه د ښوونځي د شاګردۍ له وخته د مرکز کابل د بېلابېلو مجلو او اخبارونه اشتراک درلود او له کابله به د دوی په نامه کندهار ته بېلابېلي مجلې او اخبارونه رارسېدل. اروابښاد نعیمي خپل ادبي ذوق د مرګ تر وخته وپاله او په دغه دوران کې ئې بېلابېلي ترجمې او لیکني په کندهار کې د کندهار مجلې، طلوع افغان او په کابل کې د کابل مجلې له لاري خپرې سوي دي.

د کندهار د مشرانو فرهنګیانو سره ئې د ناستي ولاړي مجلسونه کړي دي او دغه عادت ئې د ژوند تر آخره پوري پاللی دئ، د مشرانو تر څنګ ئې کشران هم نه دي هېر کړي، زه ئې څو واره په مجلسونو مفتخر سوی یم. ډېر آرام او د پاسته طبیعت څښتن سړی وو. خبري ئې آرامي او پرله پېیلي کولې. د وخت د حکامو ښې خاطرې ئې په حافظه کي ساتلي وې او کله نا کله به ئې مجلسونه په ګرمول.

اروابښاد نعیمي د ۱۳۹۱ش کال د سلواغې پر ۱۵مه په کندهار کي وفات او په خپله پلرنۍ هدیره کي ښخ سو.

مطیع الله روهیال

۳ وږی ۱۳۹۳ش

نوی ښار - کندهار

# کندهاري معماران

انسانان چې د کور، خوني او ښار مدني ژوند ته راشیوه سوي دي، نو ښایي چې همدا مهال یا څه وروسته معماري هم پیل سوې وي. د معمارۍ هنر هم لکه نورو هنرونو غوندي تکاملي لار وهلې ده. هغه د لومړي سر څلور دېوالونه، خوني یا کورونه په پای کي داسي یوه برید ته رسېدلي دي چي انسانان ئې هېښ کړي دي.

موږ او تاسي وينو چي زیاتره مهال لرغونپوهان د کیندنو پر مهال تر خاورو لاندي لويي ماڼۍ، ښایسته خوني او نقاشي سوي برجان مومي، چي دا نو د معمارۍ د هنر له مخي خورا زیات ارزښت لري.

موږ به دلته د ځینو هغو ودانیو په باب معلومات وړاندي کړو، چي د مځکي پر مخ وداني سوي او اوس ئې هم په هیواد کي دننه په بلخ، بامیان، هرات، بست، غزني، کندهار، ننګرهار او د نورو ولایتونو په ځینو نورو سیمو کي بېلګې سته.

څو کاله مخکي په لمر مجله کي (د کندهاري معمارانو) تر سرلیک لاندي د ښاغلي یوسف آئینه د لیکنو یوه لړۍ چاپ سوه، چي دی خپله هم د کندهاري معمارانو له کورنۍ څخه دئ. په دې لیکنو کي ئې د کندهار پخواني او اوسني معماران (د هغه وخت په حساب) او د هغوی لاسي کارونه معرفي کړي دي.

زما له پاره چي داسي موضوعات ډېر په زړه پوري دي، نو هغه مي د راسره لږ و ډېرو معلوماتو په زیاتولو سره پښتو ته را اړولي دي او دا اړخ مي یو

څه زيات روښانه کړی دئ چي خپله کندهاري معمارانو په کندهار کي څه کړي دي؟ او هم مي د هغو معمارانو نومونه ياد کړي دي چي دلته ئې لوی – لوی کارونه کړي دي. هيله ده چي درنو لوستونکو ته به په زړه پوري وي.

کله چي په يوه ټولنه کي د هغې ټولني د رښتينو خدمتګارانو يادونه کېږي، نو د معمارانو له ډلي څخه هم لاس نه سي اووښتلای، ځکه موږ چي کله خپل کور، کوڅې، کلي او ښار ته ګورو نو دا ټولي ودانۍ د معمار د لاس محصول دي هغه د علامه رشاد بابا خبره:

دغه ستا په رنګ جهان کي چي ولاړي بنګلې دي
د معمار د لاس تښاکي، د مزدور تودې خـولې دي

نو دلته به موږ تر ډېره بريده په کندهار کي د کندهاري معمارانو په باب څه ناڅه وږغېږو:

# کندهاري معماران

## کندهار ښار:

اشرف البلاد (احمدشاهي کندهار) د ښاغلي محمدمعصوم هوتک لیکلی او چاپ سوی اثر دئ چي په دې اثر کي ئې د ځینو تاریخونو له خولې د کندهار ښار د جوړېدو په باب ویلي دي، چي لوی احمدشاه بابا د خپل سلطنت له لومړیو وختو څخه په دې فکر کي وو چي د کندهار نوی ښار د هیواد د پایتخت په توګه جوړ کړي، ځکه ئې نو له خپلو مشاورینو، قومي مشرانو او صاحب نظرو سره مشورې پیل کړې. د کندهار ښار شاوخوا سیمي ئې وکتلې او په پای کي ئې د اوسني ښار پر سیمه نظر برابر او دا ځای ئې خوښ کړ. دا سیمه چي پخوا په مجموع کي د ده خواجه په نامه یادېده د پاتاو (پاتاب) کانال د همدې ده خواجې سره نښتی روان وو او د مځکو اوبولو له پاره خورا مهمه واله وه.

لوی ټولواک د دغه ځای تر خوښېدو وروسته د ۱۱۶۹هـ ق کال د ربیع الثاني (دوهمي خور) په لومړۍ ورځ د احمدشاهي کندهار د بنسټ ډبره کښېښوده. د بنسټ ایښوولو په مراسمو کي اعلیحضرت احمدشاه بابا تر دعا وروسته د ښار جوړولو عمومي سرپرستي اشرف الوزراء شاه ولي خان بامیزي ته وسپارله.

د ښار له پاره ئې په یوه لویه کلا کي د ننه د دوولسو قولبو په اندازه چي شپږ سوه جریبه کېږي نقشه داسي جوړه کړه چي د کلا په دننه کي باید ارګ، دربار، څو سرکاري ودانۍ، څو بازارونه او د بېلابېلو قومونو او ټبرونو په

نامه کوڅې او کورونه جوړ سي.

نوموړي د ماهرو معمارانو چي مهندسان ئې هم بولي له خوا کار پيل کړ، چي لوی معمار ئې استاد محمدياسين نومېدی.

د کندهار ښار په دوهمه ناحيه کي اوس هم د (بنايانو کوڅه) سته چي دلته به دغه معماران اوسېدل او زياتره هغه کندهاري معماران چي په کندهار، کابل، جلال آباد او د افغانستان په نورو سيمو کي ئې ودانۍ جوړې کړي، له دغي کوڅې څخه راوتلي دي.

د معمارۍ هنر زموږ په هيواد او ګاونډيو هيوادو کي د سټايل او نور څرنګوالي له مخي يو ډول معلومېږي، په تېره بيا هغه ودانۍ چي تر احمدشاهي عصر وروسته جوړي سوي دي. د هند ښايسته او لويي ماڼۍ چي د استاد احمد او د ده د زامنو استاد عطاء الله او نورو په لاس جوړي سوي دي هم د کندهار د اصيلو معمارانو کار ته ورته دي او اثر ئې پکښې ښکاره دئ، ځکه کټ مټ هغه سبک آن مساله پکښي کارېدلې ده چي زموږ په هيواد کي به کارېدله چي دا نو د معمارۍ (ګډ ختيځ) طرز راپېژني.

## د کندهاري معمارانو ځيني ځانګړني:

دا معماران ځانته جلا ټيپ خلګ وه. دوی پرته له دې چي د معمارۍ سامان ورڅخه وای، د څېرې، کالو او نورو ځانګړنو له مخي پېژندل کېدل. لکه ږيره به ئې لنډه او کونډۍ وه، برېتونه به ئې په غيچي وهل، د سپينو زرو يو لوی مهر به ئې په ګوتو کاوه، په صدرۍ پوري به ئې يو ځنځير مښلاوه چي يوه کوچنۍ منځ خالي آله به پوري مښتې وه، چي سياهي به وراچول کېده او د ټاپې کار به ځني اخيستل کېده. په دې ځنځير کي به کليمه داره روپۍ، چاقو او غاښ ټومبی هم اچول سوی وو. بګړۍ ته به ئې جوغه ورکوله.

د کار په وخت کي به ئې شمله په بګړۍ کي وهله. داسي کورتۍ يا

صدرۍ به ئې اغوستله چې غوټې به ئې تړلې وې، د لاس لرګی به ئې له ځان سره ګرځاوه او کله کله به ئې له دې لرګي څخه د اندازه کولو کار اخيست، هم به ئې ورباندې خټګر او نورو کارګرانو ته لارښوونه کوله. په جېب کې به ئې يو ټوک وظيفه په وربښمين دسمال کې پېچلې له ځان سره ګرځوله، اصيلي شاه مقصودۍ تسپې به ئې هم وراچولې، د زړتيا پر مهال به ئې عينکي هم اېښوولې، بازوبند به ئې تاړه.

د کار سامانونه ترازو، پرکار، کج، نقشه او څه نور افزارونه به ئې په يوه توبره کې اچول، چې زوی يا بل دوست به ورسره وړل.

ځينو معمارانو به تل په ښوونه کې دا بخل درلود چې بايد دا هنر د ده له نژدې دوستانو څخه پرته بل څوک زده نه کړي، نو کار ته به ئې خپل زامن يا نور نژدې دوستان ورسره ملګري کول. د بډايو معمارانو اکثره د کار سامانونه به له زرو څخه جوړ سوي وه، کله چې به ئې د يو ځای يا تعمير نقشه رسموله نو له يو ډول ځانګړې سياهۍ (رنګ) څخه به ئې کار اخيست او کاغذ ئې هم بېل وو.

د نقشې رسمولو ترتيب ئې داسې وو چې معمار به پر مځکه چارزانو کښېناست، کاغذ به ئې پر يوه ټيټ مېز کښېښود او څلور کونجه به ئې پر مېز ورونښلول، بيا به ئې نو کار پر شروع کړ. د کار تر پيل مخکې به ئې اودس تازه کړ، که به د لمانځه وخت وو اول به ئې لمونځ وکړ بيا به ئې نو په بسم الله، الحمدلله او نورو سپېڅلو کلمو سره کار پيل کاوه. همدارنګه به ئې د بنسټ اېښوولو، کمان تړلو، پوښښ کولو، يا خټو خيشتولو يا مسالې پخولو پر مهال هغه مخصوصې دعاوې ويلې چې د دوی به زده وې. بې اودسه به نه معمار او نه هم خټګر کار مښلاوه. د کار په پای کې به ئې په ډله ايز ډول تکبيرونه ويل. خيراتونه او نذرونه هم دود وه.

تر معمار وروسته به استادکار خټګر، بيا شاګردانو او مزدورانو يو په بل

پسې کار کاوه.

د استادکار ختګر د کار افزار ګلماله، دست پنه، شاول، زېبند، تېشه او کولنګ راشپېل وه. دا سامانونه به ئې د کار ځای ته په توبره، بورۍ یا دوپټه کي وړل.

د دېوالو یا نورو سطحو اندازه او سموالی به ئې په شاول معلوماوه او یا به ئې په سترګو معلوماوه. داسي چي د دېوال له یوه ګوټ څخه به ئې نظر ورواچاوه، دا کار به ئې کله کله له کښتي څخه و لوړي خوا ته کاوه. په دې توګه به ئې د دېوال کوږوالی او لکي بوکي کار سماوه. د مځکي مخ چي به ئې سماوه، څو ځایه به ئې خښتي کښېښوولې بیا به نو ورته پرېووت او د مځکي پورته کښته به ئې په سترګو معلوموله. معمارانو به د مځکي پر مخ او لاندي دواړو کي کار کولای سوای چي په دې کي زېرخانه، پول، واله، سیفون، حوض، بند، سړک او داسي نور راځي او هر ډول ودانۍ ئې په غره او سمه کي جوړولای سوای. د ګلخانې، باغ، باغچې او نورو ساتېري ځایو جوړونه هم د معمار د کار برخه ده. معمار له مهندسۍ پرته په رسامۍ، نقاشۍ او مجسمه جوړونه کي هم ماهر وو، چي په نخشو کي به ئې له هغو څخه کار اخیست.

لکه مخکي چي مو وویل چي د شته معلوماتو له مخي د کندهار د اوسنیو ځینو معمارانو استاد او مشر، استاد حاجي محمدیاسین دئ، چي تر ده مخکي د کندهاري معمار په نوم بل څوک نه پېژنو. کله چي احمدشاه بابا وغوښته چي د خپل هیواد او امپراتورۍ مرکز جوړ کړي نو د همدغه احمدشاهي کندهار چي اوس هم په همدې نامه یادېږي، نقشه ئې جوړه کړه او یوه لویه کلا ئې پر راوګرځوله چي بېلابېلي دولتي او نادولتي ودانۍ ئې پکښي جوړي کړې. نور لکه جامع ګاني، چارسو، د کندهار اوسنی سرخلاصی چارسو چي هغه مهال پوښلی وو، نخشه سول چي په یقین سره د معمارۍ او ښایي د هنر یو شهکار بلل کېږي او زیات شمېر نوري ودانۍ هم

جوړي سوې چي اوس هم په ګمبتي بنه سته. د دغه کار له پاره استاد محمدياسين او د ده زامن استاد پاينده محمد او استاد عبدالرحمن د پاچا په خوښه وټاکل سول. په دې کار کي د کندهار ځيني اطرافي بنايان هم ګومارل سوي وه. تر دې وروسته ځيني نور سپېڅلي ځايونه لکه خرقه مبارکه، ځيني جامع ګاني او يادګاري مسجدونه جوړ سول. په ځلرمه ناحيه کي د اشرف الوزراء مسجد جامع چي زړه جامع ئې بولي، مدد خان جامع، ميرهزار جامع چي اوس هم په خپله بڼه ولاړ دي، چي ښکلي رواقونه، کټارې، ګچي ګلان او پاڼي، فيل پايې، د پوښښونو لوړي ښکلي ګومبتي ئې درلودې. په هره برخه کي ئې د مسالې تهيې ځان ته خپل ترتيب درلود چي دا ټول د کندهاري سبک او د اعليحضرت احمدشاه بابا د پېر (عصر) د معمارانو د لاښ نښانې دي. د دغسي ځايونو د جوړېدو فرمانونه به پاچا صادرول (دا ټول فرمانونه کېدای سي چي اوس هم د ځينو معمارانو له وارثانو سره پيدا سي). د تېمورشاهي تاريخ چي عزيزالدين وکيلي ليکلی دئ په دوهم ټوک کي ئې کښلي دي چي:

"استاد محمدياسين، استاد پاينده محمد او استاد عبدالرحمن به د احمدشاه بابا په پېر کي تل داسي کارو ته ګومارل کېدل، چي کله به د پاچا اراده سوه، چي يوه ماڼۍ، کلا، باغ يا د ساتېري ځای جوړ سي نو دستي به نخشه، ختګران، نوره عمله لکه د مسالې برابروونکي، سارو، سندله جوړوونکي، ډبري والا، ترکاڼ او نور ...، همداسي به ئې د مسالې جوړولو له پاره کوره (داښ) جوړه کړه، چي خښتي، اهاک او نور به پکښي پخېدل. د دې توکو تر برابرولو وروسته به د لوی استاد تر نظر لاندي کار پيلېدی او نوموړي معمار به د ټول کار مسئول وو. آن د ودانۍ ميده کاري، ښکلاييزي برخي او د کار کُلي او جزئي برخي به هم ده ارزولې او که به څه ستونزه رامنځته کېده نو مشر معمار به پاچا ته مسئول وو.

په کندهار کي د استاد یاسین، پاینده محمد او عبدالرحمن د لاس کارونه ډېر تاریخي ارزښت لري، چي یوه ښه غوره بېلګه ئې د احمدشاه بابا ګمبته وه. (دا ګمبته چي د سقاویانو سره په جنګ کي توپ پر لګېدلی وو او درز پکښي پیدا سوی وو، ۳۳ کاله مخکي د استاد نعیم جان معمار له خوا ئې د سر برخه ونړول سوه او بیرته له سره ترمیم سوه. نور نو تر اوسه په خپل ټول آب و تاب ولاړه ده او د ښار له ډېرو لیري ځایو څخه ډېره ښکلې لیدل کېږي. همدارنګه شاه جامع (د احمدشاه بابا جامع) او د هغه مهال د لویو خلګو په نومونو جامع ګاني تر اوسه په خپل ټول عظمت او پخوانۍ بڼه ولاړي دي. په احمدشاهي ښار کي د هغه مهال کورونه تر اوسه سته، د کندهار سپین ږیري اوس هم دا خبره کوي چي (د پلاني کور خوني احمدشاهي خوني دي، یا شاهي خوني دي، اوس د (شاهي اصطلاح) د لوی له پاره کار ېږي، لکه لوی شاهي کور دئ، یا شاهي خونه ده).

د کندهار ښار جنوبي خوا ته د کوچني کارېز ک په کلي کي د میا نورمحمد صاحب د قبر سر ته یوه مناره ولاړه ده (چي د روسانو سره په جنګو کي ونړېده، بیا د کندهار د مخکني والي ګل آغا شېرزي له خوا جوړه او ترمیم سوه).

زموږ نیکه ګانو ویل چي د هغه ځای د متولیانو په وینا دا مناره استاد محمدیاسین په خپل لاس جوړه کړې ده، کله چي د احمدشاه بابا زوی تېمورشاه پلازمېنه له کندهاره کابل ته یووړه، نو دغه یو شمېر معماران ئې هم ورسره بوتله او په کابل کي ئې ښار جوړولو ته وګومارل. په کابل کي د ښار نقشه جوړه سوه او د کار پر سر ئې (مراد خان) چي په کابل کي ئې د مرادخانه په نوم کوڅه پر نامه ده ودراوه. دغو معمارانو په کابل کي د عاشقانو عارفانو (تمیم انصار، جابر انصار) زیارت، نورالاسلام مسجد او څه نور سرکاري کارونه وکړل، چي دا هلته د دوی لومړي کارونه وه.

دغه پلار او زوی ئې پاینده محمد د کابل په بالاحصار کې چې هغه وخت شاهي ارګ بلل کېدی، ځیني ودانۍ جوړې کړې. د بالاحصار یو څه برخه اوس هم سته په تېره بیا د بالاحصار د څلورو خواوو د ډېرو کار تر اوسه هیڅ ډول پېښنو له منځه نه دئ وړی. د کابل د هغه مهال کوڅې اوس هم د هغه پېر د نامتو خلګو په نامه یادېږي، لکه د سردار جان کوڅه، مرادخاني کوڅه، باغ نواب کوڅه، قاضي فیض الله خان کوڅه، همدارنګه څو مسجدونه، د کابل پر رود څو پلونه، څه نور د ساتېري ځایونه د تېمورشاه په امر جوړ سول. همدا ډول د کابل په اطرافو کې د تېمورشاه د دربار غټانو هم کلاوي او باغونه جوړ کړي دي، چې نخشه او د جوړوني کارونه ئې دغو معمارانو تر سره کړي دي. دا ځایونه اوس هم د دغو غټانو په نومو یادېږي او آثار ئې سته. د دغو ودانیو په جوړولو به پاچا او نور درباري غټان ډېر خوښ وه. وروسته نوموړي پلار او زوی (استاد یاسین او استاد پاینده محمد) د دربار غړي سول چې تل به د دربار له ځینو امتیازاتو څخه برخمن وه. په کابل کې د پاچا ځای ته نژدې، کور، آسان او مهتران ورته ټاکل سوي وه او له دربار څخه د پاچا له خوا ځیره ورته مقرره وه.

د پاچا تېمورشاه د مهال ټولې ودانۍ نه دي پاته او ځای – ځای آثار ئې لیدل کېږي، کله چې تېمورشاه مړ او په چارباغ کې ښخ سو، نو د ده د ګمبتې او قبر د جوړېدو کار هم دغه پلار او زوی وکړ، چې د کابل د ښار په منځ کې له ورایه ښکاري. د تېمورشاه تر مرګ وروسته د زامنو د بې اتفاقۍ او کورنۍ جګړې له امله د خلګو ژوند پر عادي حال پاته نه سو، ځکه نو دا مهال د وطن د آبادۍ او معمارۍ څرک چنداني نه لیدل کېږي.

د کندهار په کوهک کې د زرغونې انا ګمبته هم دغو معمارانو جوړه کړې چې د غوایي تر انقلاب مخکې ما (انجنیر نعیمي) بیا ترمیم کړه، خو بیا د جنګونو، طبیعي پېښنو او نه پاملرنې له امله بیرته وشړېده، خو د ګل آغا

شېرزي د ولايت پر مهال بيا ترميم سوه.

د سدوزو کورنۍ د ځينو شهزادګانو تر خپل منځي کشمکش وروسته چي شاه زمان د تېمورشاه زوی په ۱۷۹۳م واک واخيست نو دا مهال د استاد ياسين له کورنۍ سلسلې څخه استاد يارخان او استاد شهباز خان پاته وه. بيا نو د امير دوست محمد خان او امېرشېرعلي خان تر وخته همدا دوه مشران معماران وه چي د پاچهانو او دربار تر پاملرني لاندي ئې ودانيز کارونه کول. تر دې وروسته د نوموړي شهباز خان دوه زامن شهنواز خان او محمدکريم خان د وخت معماران وه. همدارنګه استاد عبدالرحيم د استاد صديق له اولادې څخه چي د استاد ياسين د کورنۍ سړی وو. دوی هم په کندهار کي د معمارۍ په چارو بوخت وه، چي د زياتو ودانيو تر څنګ د کندهار د منزل باغ پخوانۍ ماڼۍ هم دوی جوړه کړې ده. که څه هم چي معمارانو دا بخل درلود چي له خپلي کورنۍ پرته ئې بل چا ته معماري نه ښووله، خو د سدوزو په وخت کي کندهاري معمارانو يو شمېر کابلي معماران وروزل چي لوی او فني استادان ځني جوړ سول او په کابل کي ئې ډېري ودانۍ جوړي کړې.

د کندهاري سردارانو په وخت کي د معمارۍ د کار چنداني درک نه معلومېږي، يوازي په کلات کي لويه کلا جوړه سوه او د کندهار په چارسو کي (کندل خان) جامع جوړه سوه، چي بيا د سردار محمدعثمان خان په وخت کي ترميم او پراخه سوه چي اوس هم په همدې نامه ولاړه ده.

د اميرشېرعلي خان او وروسته بيا د عبدالرحمن خان په وخت کي هم ودانيزو کارو ته پام وسو. عبدالرحمن خان د دې کورنۍ د کارو په ارزښت پوه وو. نو د ده په فرمان يو شمېر کورنۍ چي څلوېښت تنه کېدل، په ډېر درنښت کابل ته وغوښتل سول او هلته ئې د باغ بالا، شهر آرا برج، اعمالات خانې، مېلستون باغ چي د کابل ولايت وداني ده په شهر آرا باغ کي ځينو ودانيو، د ارګ او څو نورو ودانيو د جوړېدو پلان طرحه کړ. په دې ډله کي

استاد لعل محمد او د ده ځیني شاګردان مخکي لا کابل ته تللي وه، څنګه چي کار ډېر وو او دوی نه په رسېدل ځکه نو استاد لعل محمد د امیر عبدالرحمن خان په امر کندهار ته ولېږل سو او له هغه ځایه ئې څلو ښت تنه معماران چي زیات ئې د استاد یاسین له کورنۍ څخه وه کابل ته بوتله.

او د امیر په امر هر معمار ته یو آس او درې زره پخې روپۍ ورکړه سوې او چا چي خپله کورنۍ بېولې وه د هغوی د کورنۍ لګښت ئې هم ورکاوه.

په دې ډله کي استاد جلال او ورور ئې استاد شېراحمد، استاد ولي محمد، استاد یعقوب (د استاد لعل محمد زوم)، استاد بسم الله (د استاد لعل محمد ځوان زوی)، استاد عبدالله، استاد دوست محمد، استاد حکیم، استاد حبشو، استاد رحیم او ځیني نور دوهمه او درېیمه درجه معماران کابل ته ولاړل. لومړی ئې د ارګ بیا ئې د باغ بالا او شهر آرا په ودانولو پیل وکړ. وروسته بیا ودانیز کارونه د دوی تر منځ ووېشل سول.

امیر د ښو ودانیو له جوړولو سره ډېره مینه درلوده. د مسالې په سم جوړولو او کارولو کي به ئې تل لارښووني کولې. د ښه کار په بدل کي به ئې معمارانو ته بخششونه او جایزې هم ورکولې. دوی به هم د ودانیو په ډیزاین، ښکلا او پوخوالي کي زیاته هڅه کوله. په ګچو سره هغه ګلدستې، مارپېچ کارونه، لیکونه او نوري میده کارۍ تر اوسه هم چي ځای – ځای پاته دي د ستاینې او آفرین وړ دي چي ښه بېلګه ئې د خلم (جهان نما) ماڼۍ ده.

وایي کله چي د کابل کارونه د امیر عبدالرحمن خان په وخت کي تمام سول نو نوموړي معماران د شهزاده حبیب الله خان (امیر شهید) په مشرۍ د ماهیپر له خوا جلال آباد ته واستول سول، چي هغه د ژمي پلازمېنه جوړه او نوې کړي. امیر حبیب الله خان د ختو او ودانۍ په کار کي د ښه ذوق خاوند وو. پر مساله، مزدور او نورو کارو به ئې ښه پام کاوه.

د هغه ځای کارونه د ده په لارښوونه ووېشل سول. ځینو مهمو کارو ته

به ئې څو تنه معماران وټاکل او ځینو کارو ته به ئې یو تن له کابلي یا خپلي کورنۍ له شاګردانو سره وګوماره.

د جلال آباد د شاهي باغ کار د لومړۍ درجه معمارانو له خوا پیل سو. د باغ وداني، حوض، ولې، فوارې، چمنونه، د ګلانو او ونو باغچې، د چوپړ د عملې د استوګني ځای په اوچت ډیزاین او ښکلا سره نخشه سوه.

باغ دونه ښایسته جوړ سو چي څوک ئې په لیدو نه مړېده. د کار په پای کي نوموړو معمارانو ته شپږ زره کابلۍ چي هغه وخت ښه لوړ مبلغ وو د انعام په توګه ورکول سوې.

په جلال آباد کي چي کله کارونه وپشل کېدل نو استاد جلال او استاد ولي محمد له خپلو شاګردانو سره په لغمان کي د قلعة السراج جوړېدو ته واستول سول. دوی د دغه کلا او باغ کار په ډېره ښه توګه پای ته ورساوه او ډېر ښکلي ئې جوړ کړل.

دا کلا یو مهال وسوځېده، نوري ودانۍ ئې هم اوس نه دي پاته، یوازي ئې کنډوالې پرتې دي، چي د معمارۍ د هنر عظمت او ښکلا ځني څرګندېږي.

همدارنګه په هغه ولایت کي ځیني پولان، لاري او څو نوري ودانۍ هم د دوی په لاس جوړي سوې.

حبیبیه باغ او سپین غر هوټل چي اوس بیا د جلال آباد د ښاروالۍ له خوا ترمیم سوي د استاد محمد یعقوب په لاس جوړ سوي دي. همدارنګه د دغي دورې په ودانیو کي سراج العمارة، د شهزاده غلام حیدرخان باغ، شیشم باغ، حمام، پولان، د غټانو ځیني کورونه راځي.

همدارنګه د سلطان پور د باغ ودانۍ چي هر کال د وري په میاشت کي د ویساک مېله پکښي جوړېږي او د بګرامي باغ څخه تر نملې پوري هم د دوی کارونه دي.

د امیر حبیب الله خان په دوره کي هم د ننګرهار په مرکز او شاوخوا سیمو کي ودانیزو کارو دوام درلود.

د امیر د ژمي پلازمېنه جلال آباد وو. په ژمي کي چي به دی جلال آباد ته تلی نو معماران به ئې هم ورسره بېول او هلته به ئې کارونه په کول. وایي کله چي به امیر حبیب الله خان له کابل څخه جلال آباد ته تلی نو د دربار غټان او زیات شمېر نور خلګ به له خېمو سره ورسره ملګري وه. دوی به د جلال آباد په باغو کي خېمې وهلې، ګواکي دې سفر به د یوې مېلې بڼه درلوده. په شاهي پخلنځي کي به دونه ډوډۍ پخېده چي هر چا ته به بڼه د خلاصه لاسه رسېده.

تر هغو چي به امیر هلته وو هر ځای به مېلې جوړې وې او د خلګو به بڼه سات تېر وو، چي په دې ترڅ کي به د کندهاري معمارانو باټه هم چاغه وه او دوی به زیاتره امیر په نامه پېژندل.

بیا چي به امیر کابل ته راغی نو یو ځای نه یو ځای به ئې د معمارانو لاس په کار وراخته کاوه. یا په مرکز یا نورو ولایتو کي به ئې کارونه ورته ټاکل.

دا مهال په کابل کي د دغو ختګرانو او معمارانو شمېر سلو تنو ته رسېدی.

خلیفه عبدالقیوم د استاد محمدیعقوب کندهاري ځوان شاګرد وایي چي:

امیر به موږ د زوی په نامه مخاطبولو او دې کار ئې زموږ په هڅونه کي لوی لاس درلود او دی هم زموږ په کارونو خوشحاله وو.

دا مهال استاد لعل محمد چي د کابل د باغ بالا، ارګ او د کوټوالۍ د ګمبتي کار ئې د نورو کندهاري معمارانو په همکاري بشپړ کړ له دې نړۍ وکوچېد، د استاد جلال هم پسي لار سوه.

د دلکشا، د ساعت برج، قصر علیا (د اوسني صدارت ماڼۍ)، د ستوري ماڼۍ، د جبل السراج د برېښنا بند، امیر غازي بند او ځیني نوري سراجیه او شخصي ودانۍ د استاد یعقوب په معمارۍ سره جوړي سوي دي. د برېښنا د بند او ځو نورو کارو کي کابلی معمار استاد عبدالغیاث د استاد تهماس زوی او استاد بسم الله هم ورسره ملګري وه. استاد یعقوب ډېر تکړه شاګردان وروزل چي وروسته ئې ډېر پاموړ کارونه وکړل. استاد پایند، خلیفه عبدالقیوم، بازمحمد، استاد باقي او جلیل د ده شاګردان وه چي بیا لوی معماران ځني جوړ سول. همداسي خلیفه حیدري، اکبر او فقیر جان هم د معمارانو په ټل کي راغله. کابلی خلیفه عبدالوهاب، خلیفه خوشدل چي د استاد ولي محمد شاګردان وه رسماً معمار باشان سول.

دا هم باید ووایم چي د دغو معمارانو ځینو اولادو همدا د معمارۍ لار ونیوله خو ځیني ئې بیا پر نورو لارو ولاړل.

دا مهال په کندهار کي محمدعثمان خان نائب وو، چي د ده د وخت ودانۍ تر اوسه د کار وړ دي او زیاتره ئې په خپل آب و تاب ولاړي دي.

لکه د ارګ ولایت مقام وداني، سلام خانه (اوس نسته) او هم ځرمه ځایونه لکه د منزل باغ ښکلی عمارت، د کندهار اوسنی پوښلی بازار چي نوی چارسو ئې هم بولي. همداسي د کندهار احمدشاهي کلا چي ډېره شوړېدلې وه په ډېر لګښت ترمیم سوه (له بده مرغه چي اوس دا کلا یو مخ له منځه تللې ده) د کندهار، کابل پر لار رباطونه، نهر سراج واله، د کندهار ښار جنوبي اړخ ته مهتر صواب واله (نیمګړې) او ځو نوري د دې وخت ابادۍ دي.

په اماني پېر کي استاد غلام محی الدین د استاد یعقوب ورور یوازنی معمار وو چي هرات ته د استاد په توګه واستول سو او هلته ئې شاګردان وروزل چي استاد ګل جان هراتی ئې د یادولو وړ دئ.

استاد عبدالله د دې ډلې تکړه معمار وو، چې د کابل، لوګر او پکتیا د معمارۍ ځینې کارونه په ده اړه لري.

د اعلیحضرت امان الله شاه غازي د پاچهۍ په پای کې استاد بسم الله د استاد لعل محمد زوی، تاج الدین د استاد جلال زوی، استاد کریم د استاد رحیم زوی په کابل کې بوخت وه او څه ودانیز کارونه ئې وکړل. لکه د خپلواکۍ منار او څه نور یادګارونه چې اوس ئې خپل آب و تاب او ښکلا له لاسه ورکړې ده.

دا مهال الماني معمار او مهندس (هارنی) د څو الماني کارپوهانو سره کابل ته راغی، د کابلي او کندهاري معمارانو په مرسته د دارالامان او پغمان ودانیو ته وګومارل سو.

فقیرمحمد، محمدحیدر او محمداکبر هغه معماران دي چې د اعلیحضرت امان الله شاه غازي د واکمنۍ په پای او د اعلیحضرت محمد نادرشاه د وخت او را وروسته په وزارتخانو کې پر کار ولاړ وه.

د اعلیحضرت محمد نادرشاه په وخت کې استاد بسم الله د بالاحصار بیا رغوني ته وګومارل سو. جنګي کلا او د ملي دفاع وزارت ځینې ودانۍ د ده په معمارۍ جوړې سوې. نوموړی څه مهال د مرکزي قوا د تعمیراتو مدیر او وروسته بیا د مرګ تر ساعته د ریشخور فرقې معمار وو. استاد تاج الدین تر ډېره وخته د کابل ښاروالۍ معمار وو. بیا په مزار شریف کې معمار او مهندس وټاکل سو بیا بیرته کابل ښاروالۍ ته راغی او تر مرګه همدلته پاته سو.

د استاد ولي محمد یو زوی، محمدیونس په ننګرهار کې معمار وو. د استاد رحیم کندهاري زوی مې څه وخت مخکې ولید چې ډېر سپین ږیری سوی وو.

هغه معماران چې د امیر شهید حبیب الله خان په عصر کې په خپله په کندهار کې په کار بوخت وه او د اعلیحضرت امان الله شاه غازي تر وخته ئې

کارونه له ورایه ښکاره وه، دا استادان وه: استاد شېرمحمد او ورور ئې استاد اخترجان، د استاد شېرمحمد زامن، نامتو معمار استاد شېرین، استاد صالح محمد، استاد عبدالرحمن او د ده زامن، استاد محی الدین او استاد رحم الدین، د استاد اخترجان زامن خان محمد معمار او نېک محمد وه چي اوس ئې نېک محمد ژوندی او دا کار ئې پرې ایښی دئ.

دغو دوو ورونو شېرمحمد او اخترجان د کندهار په منزل باغ او ارګ ودانیو کي کار کړی دئ.

استاد دلاور چي د امیر شهید حبیب الله خان په عصر کي ئې عمر پوخ وو. د معمارۍ یو تکړه هنرمن وو، همدارنګه د استاد غیاث زامن، جلال، عبدالوهاب، عبدالواحد او عبدالاحد وه.

استاد علي د سراج الملة په عصر کي تکړه معمار وو چي لوی حاجي پیرمحمد، استاد اعظم او استاد ګل ئې زامن وه. د لوی حاجي پیرمحمد زوی مطیع الله مهندس دئ. د استاد ګل زوی استاد صدیق الله وو چي تر دېوال لاندي مړ سو.

لوی حاجي پیرمحمد د عیدګا دروازې د شیشک، د احمدشاه بابا د ګمبتي په ترمیم، د هرات دروازې د شهیدانو د څلي په جوړېدو کي د استاد نعیم جان معمارباشي تر سرپرستۍ لاندي کار کړی دئ.

د دې عصر بل معمار استاد آغاجان او وراره ئې استاد سراج وو. د استاد آغاجان زامن محمدانور او استاد لالی وه.

د استاد محمدانور زامن پر دغه لار پاته نه سول چي محمدعثمان ئې معمار، محمدامین ئې اوس تاجر او محمدسلیم ئې کشر زوی پاته دئ.

د دې عصر د تکړه استاد نېک محمد زامن استاد سیدمحمد، شېرمحمد (خټګر) او امیر محمد (بله پېشه ئې نیولې ده) وه.

استاد اسلم، استاد شاني (په موسیقي هم پوهېده)، استاد غلام محمد

او نظرمحمد، صوفي نظرمحمد د اعليحضرت امان الله شاه غازي په عصر کي په کار بوخت وه، د صوفي نظرمحمد زوی اوس هم په همدې کسب بوخت دئ.

دلته اوس يوازي هغه معماران درپېژنو چي يوازي ئې په کندهار کي د اعليحضرت امان الله شاه غازي له پېر څخه تر ننه پوري کارونه کړي دي.

## استاد نعيم جان:

په معاصرو معمارانو کي هغه څوک چي د معمارۍ په هنر کي ئې کارونه ډېر ځلاند دي، هغه استاد نعيم جان دئ چي په خليفه نعيم جان ياد وو. دی د استاد عبدالرحيم زوی، د استاد محمدصديق لمسی او همداسي ئې د نسب سلسله د کندهار لوی معمار استاد محمدياسين ته رسېږي.

په کندهار کي ئې خورا ډېر شخصي کورونه، مسجدونه، جامع ګاني، حکومتي ودانۍ، يادګارونه، حمامونه، دکانونه او نوري ودانۍ جوړي کړي دي. د حاجي ميرويس خان نيکه ګمبته ئې له بنسټه بيا د کار تر پايه، د ميوند د شهيدانو څلی، د نهر سراج ولې نيغزن د کندهار د نوي ښار ځيني ودانۍ، په ميوند کي د خواجه احمد ميوندي قبر او ګمبته او د عيدګاه دروازې شيشک ئې جوړ کړی دئ. همدارنګه ئې د احمدشاه بابا ګمبته چي د درز له امله نړېدله، ترميم کړېده. هم ئې د خرقې شريفي ترميمات کړي دي. د کدني مسجد جامع هم د ده د لاس نخښه ده. په ځوانۍ کي ئې د کندهار د ارګ ودانۍ په جوړښت کي هم چي د سردار محمدعثمان خان په وخت کي ئې کار پيل سوی وو برخه اخيستې وه.

دا يادونه هم حتمي ده چي کله به د کندهار معماران او بنايان د يوه سخت او پېچلي کار سره مخامخ کېدله نو له ده څخه به ئې مرسته غوښته يا د کندهار په اصطلاح دی به ئې ننګاوه، لکه د احمدشاه بابا ګمبتي چي درز

ئې پيدا کړی وو نور معماران ئې په نړولو حيران وه خو ده په خورا هنر د ګمبتي کولاګکه واخيسته او بيا ئې له سره ترميم کړه.

استاد نعيم جان د ودانيو په نخشه، ډيزاين او جوړولو کي خورا اوږد لاس لاره. په معماري کي ئې د بخارايي سبک پيروي کوله خو ورسره د خپلي ځانګړي سليقې ښتن هم وو او په کار کي ئې د نوښت فکر درلود.

خليفه نعيم جان د ۱۳۵۰ش کال د مرغومي په لومړۍ ورځ د اتيا کالو په عمر له دې نړۍ څخه وکوچېد.

تکړه انځورګر عبدالهادي تپاند د کندهار مجلې د ۱۳۵۱ش کال د حمل په ګڼه کي (د کندهار د کلاسيکي معمارۍ يو ګل مړاوی سو) تر سرليک لاندي يوه ليکنه خپره کړه چي يو ځای ئې ليکلي دي:

خليفه نعيم جان چي زياترو به ئې نوم اورېدلی وي، د کندهار يو پوخ او باعزته معمار وو چي د مرګ تر ګړي پوري ئې له دې فن څخه لاس وانخيست.

دی د يوې خاصي سليقې ښتن وو. په معماري کي ئې د بخارايي لرغوني سبک پيروي کوله، خو هر وخت به ئې په کار کي د ابتکار فکر درلود.

ده په خپل ژوند کي د کندهار ښار په جوړولو کي لويه برخه واخيسته.

نعيم جان په ۱۳۰٦هـ ق کال د کندهار ښار د دوهمي ناحيې د بنايانو په کوڅه کي زېږېدلی او په همدغه کوڅه کي لوی سوی دئ. په پنځلس کلنۍ کي ئې په بنايي پيل وکړ او يوازنی استاد ئې مرحوم پلار وو او په وروستيو کي ئې د خپل فطري ذکاوت له مخي ډېر برياليتوبونه تر لاسه کړه او د پلار تر مرګ وروسته ئې د هغه ځای وينو.

## د ده د کار بېلګي:

د عبدالغني خان نائب الحکومه په لارښوونه ئې د اعليحضرت احمدشاه

بابا د ګنبدي د بیا جوړولو او ترمیم تکل وکړ. ګنبده چې څه نقص ئې پیدا کړی وو او د چپه کېدو په حال کې وه د دې کار له پاره آن څوک حاضر نه سول چې هغه ونړوي، یوازینی سړی چې د دې کار له پاره ئې ملا وتړله همدغه معمار وو. ګنبده ئې له سره نوې جوړه او ترمیم کړه (البته د ګنبدې د سر برخه ئې له سره جوړه کړه).

په ۱۳۱۰کې دی رسماً د ریاست تنظیمه اروابښاد محمدګل خان مومند له خوا د میوند د شهیدانو د څلي د جوړولو او نقشه کولو له پاره وګومارل سو او دا څلی ئې د ۱۳۱۱کال تر پایه جوړ کړ چې شل متره جګوالی لري.

په ۱۳۱۳کال کې بیا د اروابښاد محمدګل خان مومند له خوا د حاجي میرویس نیکه د مقبرې د نقشه کولو او جوړولو کار وروسپارل سو او کټ مټ ئې د لوی احمدشاه بابا د ګنبدې غوندې نقشه او جوړه کړه، البته د مساحت له مخې تر هغې کوچنۍ ده او د جوړېدو کار ئې په ۱۳۱۴کې پای ته ورسېده.

په میوند اولسوالۍ کې د خواجه احمد میوندي د مزار ګنبده هم د ده د لاس نخښه ده، چې په ۱۳۲۷کال د دې کار له پاره د کندهار د پخواني نائب الحکومه محمدیونس خان له خوا ګومارل سوی وو.

په نوي ښار کې سره جامع ئې د کلاسیکي او لرغوني معمارۍ سمبول دئ. د هغه کار ئې په ۱۳۲۹کې پیل کړ. په دې جامع کې د ده ورور لعل محمد خان هم لویه برخه لرله. خصوصاً په دې برخه کې د نعیم جان معماري بېسارې ده. ځکه د هغه د منارو او د ګنبدې پوښښ په کندهار کې هیڅ قدرت نه سوای کولای خو دغه باهمته معمار ئې د جوړولو تکل وکړ، اوس که سړی ورته ګوري نو ویني چې په څونه ښکلا سره ئې ګنبده راګردې کړې ده. خلیفه صاحب دا قدرت درلود چې د کندهاریانو په لاس په جوړو سوو خښتو باندې داسې پوښښ وکړي چې له اوسنیو عصري پوښښونو سره

چي ډيزاين ئې سيخ او کانګريټ وي ورته والی ولري. د دې خبري غوره بېلګه د سراج کانال د سيفون پوښښ دئ چي دا کانال د سردار محمدعثمان خان په دوره کي جوړ سوی دئ.

په نوي ښار کي عطاجان جامع او د عيدګاه دروازې شيشک هم د ده د لاس نخښي دي.

د ده د ستايني وړ يو بل کار د خرقې شريفي ترميم، ډيزاين، رنګول او ميناتوري ده. دی آن د ژوند په وروستيو شېبو کي چي ډېر کمزوری سوی او دومره سخت ناروغ وو چي کار ته د تګ پر مهال به په لاره کي غوځار پدی، لا هم په مينه د کار تر بشپړېدو پوري خپلي دندې ته ورتی. څونه چي به ئې وس وو خپله به ئې کار کاوه خو چي تر وس به ئې تېره سوه نو به ئې نورو ته لارښوونه کوله.

په ګچو سره راز –راز ګلکاري او د هغه ځانګړې رنګ آميزي، ميناتوري او رسامي د ده د ښه ذوق او سيلقې ښکار ندوی ده.

د خرقې شريفي وداني چي اوس يوه ځانګړې او زړه وړونکې ښکلا لري، رنګونه او کاشي کاري ئې د هر ليدونکي زړه وړي، خو دلته يوه د افسوس خبره ده چي بايد يادونه ئې خامخا وکړو: هر هنر او هنرمن د يوې ټولني په غېږ کي رالويېږي او همدغه ټولنه د دغه هنرمن روزونکې ده. خو موږ ډېر داسي هنرمندان پېژنو چي د پوره استعداد خاوندان وه خو د خلګو د بې پروايي له امله له نظره لوېدلي او چا ئې نوم پر خوله نه دئ راوړی.

خليفه نعيم جان او د ده هنر که څه هم د ده په ژوند کي او د ده تر ژوند وروسته به د خلګو پر ژبه پاته وي، خو دلته د اړوندو څانګو ايماني دنده ده چي د دغسي هنرمندانو د نامه د ژوندي ساتلو او د هغو د خدمتونو د ستايلو په باب پټه خوله کنښېنني او هغوی هېر نه کړي. که ګران لوستونکي خرقې شريفي ته ورغلي وي، ښايي ليدلي به ئې وي چي د مدخل په چپه لاس کي

يوه د ډبري لوحه ده او داسي کرښي پر ليکلي سوي دي:

"د افغانستان د ديانت کاره پاچا اعليحضرت المتوکل على الله محمدظاهرشاه په امر او هدايت په ۱۳۴۳ کال کي چي ښاغلی محمدصديق د کندهار والي و، د خرقې شريفي کار د کندهار او د ټول هيواد د خلګو د بسپني څخه شروع شو، کاشي، د رخام ډبري، ميناتوري او د ښيښې کارونه ئې وسول او په ۱۳۴۹ کال کي د نوموړي والي په دوهمه دوره کي سر ته ورسېد، ښاغلي محمدافضل شېردل، سرپرست ښاروال د کار سرپرستي او ښاغلي نصرالله خان مهندس ئې فني څار نه کوله".

فکر کوم هغه چا چي د دغي ډبري د جوړولو ليکنه کړې ده، لويه بې انصافي کړې ده، ځکه دا واقعيت ټولو ته معلوم دئ چي دغه خليفه نعيم جان په څه ستونزو او ناروغه ځان څو نه کار پکښي کړی دئ.

خو دا حقيقت تر پښو لاندي سوی دئ، ځکه چي د دغه اروابناد هنرمن نوم ته ئې هلته ځای نه دئ ورکړی ... که د دغه هنرمند کار او زحمت د ښاغلي محمدافضل خان شېردل او فني مهندس ښاغلي نصرالله د (سرپرستۍ او پاملرني) سره په ترازو کي واچول سي نو په خپله به څرګنده سي چي آيا نعيم جان د دوی په اندازه هم زيار او زحمت نه وو ايستلی. دا واقعيت تر ټولو زيات خپله ښاغلي نصرالله ته ښه څرګند دئ ځکه چي دی د خليفه نعيم جان له لومړيو شاګردانو څخه وو.

څه موده دمخه ښاغلي عبدالعليم د کندهار د پوهني لوی مدير د خرقې شريفي تاريخچه وليکله چي هغه هم حقيقت پايماله کړی او داسي ئې ليکلي دي:

"دا وداني د کندهار د والي محمدصديق په پاملرنه، د محمدافضل شېردل په سرپرستي ډيزاين، ميناتوري، او رنګ آميزي ئې د نصرالله خان فني مدير تر کتني لاندي وسوه".

## د استاد نعیم جان رسمي دندې:

خلیفه نعیم جان په ۱۳۱۴کي د کندهار د والي سردار محمدداود خان په امر د ښاروالۍ معمارباشي سو او تر ۱۳۲۵پوري ئې دا کار وکړ، وروسته ئې د ناروغۍ له امله دا کار و نه کړای سوای.

له ۱۳۲۹– ۱۳۳۱پوري د کندهار ولایت د مرستون ریاست افتخاري فني مشاور او تر هغه وروسته تر ۱۳۴۲کال پوري د مرستون د تعمیراتو معمارباشي وو.

د سرې جامع تر بشپړېدو وروسته د محمدعلم خان فرقه مشر له خوا چي د ولایت وکیل وو د نغدو پیسو لومړۍ درجه جایزه ورکول سوه. همدارنګه د اروانښاد عبدالغني خان والي له خوا څو –څو واره جایزې ورکول سوي دي. په تېره بیا د احمدشاه بابا د مقبرې تر ترمیم وروسته ئې ډېر درناوی وسو.

خلیفه نعیم جان د ډېري ځواکمني حافظې څښتن وو. تر دې چي د سختي ناروغۍ په وخت کي لا هم که به د کندهار ښار د کورو په باب یا د هغو د بیه کولو په باب پوښتنه ځني وسوه، نو ده ته به خونه پر خونه ورمعلوم وو او بیه به ئې ورته ټاکله. معمارباشي صاحب که څه هم ډېر شاګردان روزلي دي او زیاتره ئې اوس د لویو چوکیو او فن خاوندان دي خو د ده مړیني په کندهار کي د کلاسیکي معمارۍ کمبله ټوله کړه او نور چا د ده ځای و نه سوای نیولای.

په لمر مجله کي د (خاتم المعماران) تر سرلیک لاندي د ده مرحوم یادونه داسي سوې ده:

"در شماره های گذشته لمر زیر عنوان (معماران کندهاری) یک سلسله مقالاتی را خواندم که در حقیقت از یک طبقه خدمتگار کشور یادآوری کرده بودید، واقعاً معماران کندهاری در کار آبادانی کشور سهم

بسزائی دارند که برای اولین بار شمار از کارنامه های شان یادآوری گردید.

اثار دست معماران کندهاری در سراسر کشور به مشاهده میرسد ولی اکنون که سال ۱۳۵۱ شمسی است، سلسله معماران کندهاری منقرض شده و اولادهای شان به کارهای دیگر اشتغال دارند، صرف مهندس نصرالله که تا حال پیشه پدران خود مشغولیت دارد و یکی هم بناغلی محمدحسن پسر اخندزاده به مهندسی علاقه گرفته است.

برای اینکه باز هم تذکری از این سلسله به عمل آید فوتوی مرحوم محمدنعیم اخندزاده را که میتوان او را (خاتم المعماران کندهار) گفت فرستادم که یاد و بودی از وی به عمل آید، مرحوم اخندزاده سال گذشته تقریباً به عمر ۸۵ سالگی فوت کرده است" (محمدنبی کامگار).

## استاد لعل محمد:

د اروابناد محمدنعیم ورور چي په مدیرصاحب سره مشهور وو. د ده کارونه په دې ډول دي:

د فراه د نوي ښار بنسټ ئې ایښی دئ. د چخانسور د شهرشاهي کار د ده په مهندسي په درو کلو کي بشپړ سو. د مرحوم سردار محمدداود خان په دوره کي ئې د کندهار د نوي ښار د لوېدیځي خوا د ودانیو په جوړښت کي لویه برخه درلوده.

د کندهار د ملکي روغتون ودانۍ، کندهار هوټل، احمدشاه بابا لېسه، میرویس لېسه (چي اوس عالي دارالمعلمین دئ) د کندهار د والیانو د استوګني کور، د باغ پل ودانۍ (زوړ پل او د مرغې واله ئې چي زر متره اوږده ده) له حاجي پیرمحمد او شاغاسي محمدانور سره په ګډه جوړ کړي دي.

همداسي ئې په را وروسته کي د کندهار لوی محبس، البیروني لېسه چي اوس ئې ظاهرشاهي لېسه بولي، او نوري ډېري ملکي او عسکري ودانۍ

د ده په معمارۍ جوړې سوې دي.

د وطن دا لوی خدمتګار په ۱۳۴۹لمريز کال مړ سو. د کندهار مشهور معمار نصرالله خان، نظرعلي، تاج محمد او مطيع الله مهندس د ده شاګردان وه.

دی څه مهال د کندهار د صنايعو د ښوونځي مدير وو. د ده زامن هم د ده پر پله روان سول. مشر زوی ئې اروابناد دوست محمد د خپل وخت تکړه مهندس وو چي په ځوانۍ کي مړ سو او اوس ئې يو زوی خيرمحمد پاته دئ، چي دی هم تکړه معمار دئ. د کندهار ښاروالۍ، ژاندارمې او شين ډنډ د هوايي ډګر د ودانيو په معماري کي ئې ډېره ونډه درلوده. اوس هم په کندهار کي د شخصي ودانيو په جوړولو بوخت دئ.

د اروابناد استاد لعل محمد يو زوی انجنير علي احمد دئ چي اوس په کندهار کي د نوي سبک په معماري، مهندسي، د نوو مارکېټونو او کورونو په نقشه، ډيزاين او ساختماني کارو بوخت دئ.

## استاد يارمحمد:

دا نامتو معمار چي په استاد ياران ئې شهرت درلود، د کندهار ښاروالۍ معمارباشي وو. ده هم په کندهار او هلمند ولايتونو کي ډېر ودانيز کارونه کړي دي. د هلمند لوی پل چي له پخو خښتو او مسالې څخه جوړ سوی د ده د کار بېلګه ده، چي د نوموړي پل يوه برخه اوس هم پاته ده. د کندهار د ارګ پوسته خانه چي پخوا د دې ولايت د مخابراتو او طلوع افغان مديريتونه پکښې وه چي اوس عينو لېسه ده د ده له خوا جوړه سوې ده.

او هم د کندهار سينما پخوانۍ ودانۍ چي اوس ئې پر ځای د عمر جامع ودانۍ د طالبانو له خوا جوړه خو نيمګړې پاته ده جوړ کړې وه.

استاد ياران دغه هنر له خپل ماما، استاد دلاور څخه زده کړی وو.

استاد یارمحمد د ۱۳۳۰لمریز کال په غبرګولي کې مړ سوی دئ. د ده څلور زامن هم د ده پر پله ولاړه، چې د هغو له جملې څخه ئې استاد لعل جان د هرات ولایت معمار وو. عبدالحبیب ئې په هلمند کې وو. بل ئې تاج محمد مهندس وو چې د هلمند ولایت د عمومي ریاست تکړه معمار او مهندس وو او غلام محمد ئې د کندهار د قول اردو او بیا د ښاروالۍ معمار وو چې دا مهال دوی څلور واړه وفات سوي دي.

## استاد اختر محمد:

استاد اخترمحمد په لوی اخترجان سره مشهور وو. دی د استاد عبدالحکیم زوی د استاد محمدصدیق لمسی وو او په دې توګه ئې سلسله مشر استاد یاسین ته رسېږي. دی په ۱۳۲۲لمریز کال وفات سوی دئ. ده د نهر سراج کانال د سیفون په کار کې چې په خښتي ډول د کانکرېټي سیفون په ښه جوړ سوی، له استاد نعیم جان سره ئې برخه پکښې اخیستې وه. د ارغسان پر رود پخوانی خښتي پل او د کندهار ولایت د عمومي سړکانو پلچکان ده جوړ کړي دي. پر مېنه ئې یو زوی عبدالرشید پاته سو چې د ده لار ئې ونیوله. ده په ګل دستو جوړولو کې ځانګړې مهارت درلود او په ځوانۍ کې وفات سوی دئ. له ده څخه پنځه زامن پاته سول خو د ده کسب ئې خپل نه کړ.

## استاد شېرین:

د کندهار له نامتو معمارانو څخه دئ، چې د دې ولایت په ډېرو رسمي او شخصي ودانیو کې ئې کار کړی دئ. ده په ځانګړې توګه په نخشه جوړونه او رسامي کې ډېر وړتوب لاره، شاوخوا اویا کاله مخکې مړ دئ.

## استاد صالح محمد:

دی په لالکو مشهور وو. د نهرسراج کانال، ارغنداو پل، چې اوس نړېدلی دئ او ډېرو نورو رسمي او شخصي ودانیو په جوړولو کې ئې کار کړی دئ.

کله چې د کندهار د هغه مهال والي سردار غلام فاروق عثمان (چې یو وار په ۱۳۱۱لمریز او دوهم وار په ۱۳۱۷لمریز کې د یو کال له پاره وټاکل سو)، له کندهاره تبدیل سو نو له ځان سره ئې استاد صالح محمد او استاد خان محمد (وروسته به ئې یادونه وسي) بوتلل او په بغلان کې ئې په ودانیزو کارو وګومارل. کله چې استاد صالح محمد له رسمیاتو څخه فارغ سو نو په کندهار کې ئې په شخصي ودانیزو کارو کې ونډه واخیسته. دی څه مهال د کندهار ښاروالۍ معمار هم وو. شاوخوا ځلوېښت کاله مخکې مړ سوی دئ.

## استاد خان محمد:

ده د فراه ولایت په ودانیزو کارو لکه د سنګین، ارغنداو، پلونو او د کندهار د عیدګاه جادې په ودانۍ جوړولو کې کار کړی دئ. په ۱۳۴۱لمریز کې د کندهار د فواید عامې معمار او په ۱۳۴۸لمریز کې د کندهار د ښاروالۍ معمار وو. د سپین بولدک په ودانیو او د کندهار ښار په لښتیو جوړولو کې ئې زحمت کښلی دئ او ډېرو شخصي ودانیزو کارونو ته ئې هم اوږه ورکړې ده. څو کاله مخکې په پاخه عمر وفات سو.

## استاد محمدالدین:

دی د استاد نورالدین زوی دئ، چې پلار ئې د امیر حبیب الله خان او امیر امان الله په پېر (عصر) کې معمار وو. دی ډېر وخت د کندهار ښاروالۍ

معمار وو. د میوند د شهیدانو ځلی، د میرویس نیکه د مقبرې او د کندهار عیدګاه جادې په ځینو ودانیزو کارو کې ئې له نامتو معمار استاد نعیم جان سره اوږه وهلې ده. هم ئې د کندهار د لوی محبس، په نوي ښار کې د سرې جامع، د هرات دروازې د شهیدانو د ځلي، البیروي لیسې او د توپخانې جامع په ودانیزو کارو کې له استاد لعل محمد سره ګډه مرسته کړې ده.

هم ئې په ډېرو نورو رسمي او نارسمي کارو کې ونډه اخستې ده. له نن څخه لس کاله مخکې وفات سوی دئ.

## لوی حاجي پیرمحمد:

تکړه معمار حاجي پیرمحمد د استاد امیر زوی وو. د کندهار په ډېرو دولتي او نادولتي ودانیزو کارو کې ئې ونډه لرلې ده. په تېره بیا د کندهار په عیدګاه جاده کې ئې ودانیز کارونه د زیات پام وړ دي. د ده دوه ورونه (استاد اعظم او استاد ګل) هم ښه معماران دي. یو زوی ئې مطیع الله په هملند ولایت کې مهندس دئ. دی ډېر وخت مخکې په هلمند ولایت کې مړ او هلته ښخ سوی دئ.

## کوچنی حاجي پیرمحمد:

دی هم تکړه معمار وو چې د هرات دروازې د شهیدانو د ځلي، احمدشاه بابا ګمبتي په ترمیم او د عیدګاه جادې په ودانیزو کارو کې ئې له استاد خلیفه نعیم سره ګډ کار کړی دئ. په نورو دولتي او نادولتي کارو کې ئې هم ونډه درلوده. ده د کار په چټکتیا کې نوم درلود. دوه زامن ئې (آغا محمد او دین محمد) هم د ده پر پله روان وه. دی څو کاله مخکې وفات سوی دئ.

## نصرالله جان مهندس:

دی د استاد سیدمحمد زوی او د استاد شاني وراره د ظاهرشاهي عصر تکړه معمار او مهندس وو. دی هغه مهال د فواید عامې مدیر وو او د هغه مهال مهمي دولتي ودانۍ لکه د کندهار مستوفیت، د مخابراتو ریاست، فواید عامې مدیریت، د محکمو ریاست، د پوهني ریاست، د ده د ډیزاین او نخشې له مخي جوړ سوي دي، چي تر اوسه ښه پوره کار ځني اخیستل کېږي. همدارنګه د نورو ودانیو تر څنګ د کندهار د زیاترو اولسوالیو ودانۍ ده نخشه کړي دي. ده همدارنګه د خرقې شریفي د ودانۍ په ترمیم کي ډېره ونډه لرله، چي نوم ئې پر هغه ډبرلیک لیکل سوی چي د دغي ودانۍ پر لوېدیځه برخه نصب دئ.

دی د کندهار ښاروالۍ د مهندسۍ د څانګي فني مدیر هم وو. د زیاترو شخصي کورونو نخشې د ده یادګار دي. د ژوند په وروستیو شپو ورځو کي په ښار جوړولو ریاست کي په کار بوخت وو. په ۱۳٦۳ لمریز کال کي مړ او د کابل په شهدای صالحین زیارت کي ښخ کړه سو.

## استاد صالح محمد:

دا بیا بل صالح محمد دئ، چي په استاد صالو مشهور او د کوچني حاجي پیرمحمد کشر ورور وو. د کندهار په ډېرو دولتي او نادولتي چارو کي ئې برخه درلوده. د ژوند په وروستیو شپو کي پر کور ناست وو. دوه زامن ئې (استاد دادمحمد او استاد تاج محمد) هم د ده لاروي وه.

## صوفي نظرمحمد:

دی هم تکړه معمار وو. د سپین ږیرتوب پر مهال مړ سوی دئ.

خیر محمد نومی زوی ئې همدا کار کوي.

## استاد محمدانور:

سپین ږیری استاد وو چې په شاغاسي سره ئې شهرت درلود. ده د معمارۍ د فن په ډېرو خواوو کې ډېر مهارت او معلومات لرل. د سپین ږیرتوب پر مهال تر مرګه پر کور ناست وو.

## استاد سیدمحمد:

دی د مسجدونو او جامع ګانو په طرز، په تېره بیا د ګمبتو او تیر کمانونو یا شیشکونو په کار ډېر پوه وو. څو کاله مخکې مړ دئ.

## استاد قادر:

د ۱۳۳۴ لمریز کال په وروستیو کې په کندهار او ګاونډیو ولایتونو کې د نوو ودانیو جوړولو کار پیل سو او په هلمند، زابل او روزګان کې د کندهار معماران وګومارل سول چې په دې لړ کې استاد قادر زابل ولایت ته واستول سو. دی څو کاله مخکې مړ دئ.

## استاد عبدالصمد:

دی یو سپین ږیری معمار دئ، چې د عمر د ډېروالي او سترګو د کمزورۍ له امله پر کور ناست دئ. دی څه مهال د کندهار د فواید عامې مدیریت رسمي معمار وو. زوی ئې اخترمحمد اوس په کابل ښاروالۍ کې په معماري چارو بوخت دئ.

## استاد حاجي قادر:

دی ډېر مهال د روزګان ولایت په مرکز (تیري) کې د معمارۍ په کار بوخت وو او د دې ولایت زیاتره ودانۍ د ده د کار محصول دي. کشر ورور ئې حاجي نادر د فواید عامې مامور بیا ئې مدیر تېر سوی دئ.

## استاد حاجي قاسم:

دی د پاخه استاد محمدغوث زوی دئ. دی د لویو خونو د خښتو د پوښښ په کار کې مهارت لري. له کندهاره پرته ئې په نورو ولایتو کې هم ودانیز کارونه کړي دي. د چاریکار مشهور مسجد جامع چې دېرش متره لوړه مناره (برج) لري او په هغه ځای کې د صادقي ګومبته چې د احمدشاه بابا ګومبتې ته ورته ده، ده جوړه کړې ده.

## استاد سراج:

دی هم تکړه معمار وو چې څو کاله مخکې وفات سوی دئ.

## استاد امین الله:

د ده د کورنۍ اکثر غړي د کندهار مشهور بنایان او استادکاران تېر سوي دي. دی خپله هم تکړه معمار وو. د کندهار ښاروالۍ رسمي معماري ئې کړې ده او هم څو کاله د فواید عامې مدیریت معمار وو. د ژوند په وروستیو کې په شخصي ودانیزو کارو بوخت وو. په نخشه جوړولو کې ئې هم اوږد لاس لاره، څو کاله مخکې د ژوند له مېني و کوچېد.

## استاد خیرمحمد:

د مشهور مهندس استاد دوست محمد او نامتو معمار استاد لعل محمد لمسی او په اصطلاح له پلار و نیکه معمار دئ. له ځوانۍ څخه په ډیزاین او نخشه جوړولو کي ښه لاس لري. همدارنګه د ودانیو په برآورد او جریبي (مساحت) کي هم تکړه دئ. څو کاله مخکي ئې د شین ډنډ هوایي ډګر په ودانیزو کارو کي لویه برخه لرله.

دی د کاشي خښتو او مزائیک په نصب کي ډېر مهارت لري. دی د کندهار د ژاندارم قوماندانۍاو په وروستیو کي بیا د ښاروالۍ رسمي معمار وو. د لاس په کارونو او پوښښ کولو کي ساری نه لري. لنډه دا چي د معمارۍ د هنر په ټولو څانګو کي ښه پوره بلدیت لري. اوس په کندهار کي په شخصي کارو لګیا دئ.

## استاد شاه محمد:

ده د کندهار په نوو ودانیو کي څه د خلیفه نعیم جان تر لاس لاندي او څه هم په ځانګړې توګه برخه اخیستې ده. اوس په کندهار کي په ودانیزو کارو بوخت او په کار کي د ښه نوم خاوند دئ.

## استاد نجف:

دی په ګچ بري، ګلکاري او نقاشي کي ډېر ماهر استاد وو. د خرقې شریفي، احمدشاه بابا ګمبتي او ځینو جامع ګانو ګلکاري ده کړې ده. دی څو کاله مخکي په پنځه اتیاکلنۍ کي د ابد له پاره وکوچېد.

**استاد دین محمد:**

عمر ئې پوخ دئ. د گمبتو او شیشکانو په کار ښه پوه دئ. په دامان اولسوالۍ کې لویه مدرسه ده جوړه کړېده.

**استاد دادو:**

استاد دادمحمد د استاد صالو (صالح محمد) زوی دئ. ښه ځیرک سړی دئ. په هر ډول سخت کار کي بند نه پاتېږي. د خښتو د پوښښ منلی استاد دئ.

**استاد حیدر:**

د استاد عبدالصمد زوی او په صافکاره استاد سره پېژندل سوی دئ. پخوا ئې په تیزدستۍ کي ښه نوم درلود. وایي چي درو کارگرو به په مساله جوړولو کي ځان نه سوای پسي رسولای. خو اوس د عمر د ډېرښت له امله پخوانۍ چالاکي نه ده ورپاته.

## وروستۍ خبري

تر دې ځایه مي له خپل توان سره سم د کندهاري معمارانو او د دوی د کارنامو په باب چي له دوه نیم سوو کالو راهیسي ئې په کندهار ولایت او د گران افغانستان په نورو سیمو کي د پام وړ کارونه کړي معلومات وړاندي کړل. موخه مو دا وه چي په هغو کورونو کي چي موږ اوسو، یا هغه پخوانۍ ښکلي ودانۍ چي د هیواد په گوټ – گوټ کي ئې وینو، خو د جوړولو او جوړونکو په باب ئې لږ معلومات لرو، څه ناڅه خبر سو او هغه د معمارانو کورنۍ وپېژنو چي سلسله ئې د احمدشاه بابا د عصر تر لوی معمار (استاد

محمدياسين) پوري رسېږي. خو په دې ترڅ کې موږ د هيواد د نورو سيمو معماران هم د دوی په ټل کې راوستل، دا ځکه چې د هغو معلوماتو له مخې چې زما سره وه نو زياتره دغه نور معماران هم د دغې مشهورې کورنۍ له روزنې برخمن سوي دي.

پای